# د عبدالقادر خان خټک د غزل یوه تنقیدي جائزه

**A Study of the Ghazal of Abdul Qadar Khan Khattak**

ډاکټر بشریٰ اکرام*

**Abstract:**

"Abdul Qadir Khan Khattakwas born in a family which was famous for pen and sword.He was the son of the great and warrior poet Khoshal Khan Khattak. He was a best poet, a best prove writer and a best translator. He hasleft a deewan of poetry which is consistof ghazals, Qaseeda and couplets. His centeralthemes are Sufism, ethix, love and universal fact of death, besides this, his poetry is decorated with differnt figures of speech like similieand metaphor. He has a strong commondon Arabic and Persian also that is why words of Arabic and Persian are also found in his poetry. His language is very easy that is why his verse has continuity and is comprehensive.This paper is a critical revew of his ghazalsin deewan."

**Keywords**: Abdul Qadar Khan, Pashto, Poetry, Classic Pashto

عبدالقادر خټک د پښتو ادب یو نوموړی شاعر د توري او قلم خاوند د خوشحال خان خټک زوی ؤ ـ د پیدائش نېټه ئې ۱۰۶۳هجري (۱۶۵۳ء) ټاکلی شوې ده۔ ابتدائي تعلیم او تربیت ئې په خپل کور شوی ؤ ـ عبدالقادر خټک یو ګڼ اړخیز او په هر لحاظ یو جامع شخصیت دی۔ هغه نه صرف شاعر دی بلکې نثر نګار هم دی۔ ترجمه ئې هم کړې ده۔ ولې په دې مقاله کښې به د هغهٔ د شاعرۍ جاج اخېستی شي۔ د عبدالقادر خټک دیوان د لوستو نه پس د بنده مخې ته د شاعرۍ ګڼ اړخونه راځي. د هغهٔ د شاعرۍ د مختلفو مضمونون یوه رنګارنګ ګلدسته ده. د هغهٔ په شاعرۍ کښې د غزلو نه علاوه قصېدې ، رباعیات، مثنوي، مخمس، مربع، ترکیب بند ، ترجیع بند او قطعات هم شته. ولې زهٔ به صرف د هغهٔ د غزلو په حواله خبره کوؤم. د دیوان د غزلو د لوستو نه پس چې کوم اړخونه زما مخې ته راغلهٔ ، زهٔ د لاندینو سر خطونو د لاندې د هغهٔ د فکر او فن په حواله بحث کول غواړم.

۱ تصوف
۲ د رسول مینه
۳ اخلاقي شاعري
۴ انسان او دنیا فاني دي
۵ عشق مجازي
۶ پښتونولي
۷ په شیخ او ملا طنز

*Assistant Professor، Pashto Academy, Peshawer University.

۸ د زمانې په بدلو اقدارو طنز
۹ تشبیه او استعاره
۱۰ ژبه او لهجه (Diction)
۱۱ موسیقیت (صنعت ردالعجز علي الصدر)
۱۲ د فارسۍ او عربۍ استعمال (ذواللغتین)

په وړاندې ورکړې شوو سرخطونو به لږ ډېر تفصیل سره خبره اوکړو .

**۱تصوف**:

د عبدالقادر خان خټک په شاعرۍ کښې د تصوف رنګ ښۀ جوت ښکاري. د تصوف په سلسله کښې عبدالقادرخان خټک د حضرت سید آدم بنوري رحمه اللهمشهور خلیفه او د لاهور د شیخ سعدي بخاري نقشبندي مرید وۀ. هم دغه وجه ده چې دۀ ته خلیفه صیب هم وئیلی شو. د ښاغلي خټک په شاعرۍ کښې د زهد او تصوف چې کوم رنګ ښکاري، د هغې نه د دوئي د علمیت پته لګي. په ډېرو اشعارو کښې ئې د عربۍ او فارسۍ ټکي په ډېر خوند استعمال کړې دي. معلومېږي دا چې عبدالقادر خټک په عربۍ او فارسۍ ښۀ عبور لرلو. د تصوف په حقله دوه قسمه نظریې دي چې یو ته همه اوست یعني وحدت الشهود وائي او دویم ته همه اوست یعني وحدت الوجود وئیلی شي اوښاغلی خټک په تصوف کښې د وحدت الوجود د نظریې قائل دی . په دې لړ کښې بهرام زخمي وائي!

ښاغلی خټک په تصوف کښې د وحدت الوجود د نظرېې قائل دی. هغه وائي چې د اهل نظر د کتلو په انداز کښې فرق دی چې ورته کائنات ځان له څیز ښکاري او د خدای پاک وجود ورته ځان له څیز ښکاري . د ښاغلي خټک په خیال داسې نه ده. هغه کائنات د وجد حقیقي جلوه ګڼي. هغه وائي چې جزو یعني کائنات د کل یعني د ذات باري تعالي نه جدا څیز نۀ دی او څکه نۀ دی چې که مونږ کائنات ته ځان له مقام ورکړو او خدای پاک ذات ځان له اوګڼو نو د الله پاک ذات به محدود پاتې شي او هغه محدود نۀ شي کېدی. بلکې هغه د کائنات په هر څیز باندې محیط دی. په قران پاک کښې په آیات الکرسي کښې د دې خیال وضاحت ډېر په خوندوره طریقه شوی دی او ښاغلي خټک د دې خیال اظهار څه په دې الفاظو کښې کړی دی چې!

د لیدونکو په نظر کښې تفاوت دی
او که نه وي جز جدا نه دی له کُله"(۱)

ابوالحسن نوري رحمه الله فرمائي چې تصوف هغه طاقت او قوت دی چې د هغې په ذریعه انسان د نفس ټول لذتونه ترک کړي . د تصوف په برکت د انسان ټول باطني نفرتونه، حسدونه او ګندګۍ پاکېږي او د مینې محبت، رضا، صبر ، سخاوت او فقر صلاحیتونه د تصوف په برکت ځلا مومي . د

تصوف د مرحلو نه د تېرېدو نه پس د انسان اخلاق اعلٰی درجې ته رسي . د انسانيت د معراج په لور روان وي .

د عبدالقادرخان خټک په شاعرۍ کښې د تصوف په حقله ښاغلی ډاکټر پروېز مهجور خوېشګي ليکي:

"صوفيانه شاعري په عمومي توګه د موضوع په حواله د دوؤ غټو توکونه نه ترکيب مومي. يو عشق مجازي او محبت چې په صوفيانه اصطلاح کښې ورته حقيقي عشق وئي او دوېم توکی اخلاق دی. ترکومه حده چې د عشق او محبت خبره ده نو د عبدالقادرخان خټک په صوفيانه شاعرۍ کښې د دې رنګ پوره غلبه ده. د دوي په شاعرۍ کښې عشق او محبت په پوره صوفيانه شان او لوړوالی په نظري او قلبي دواړو حېثيتونو کښې موجود دی. د پښتو په کلاسيک شاعرۍ کښې د عشق او جمال په حواله دوي چې څهٔ وئيلي دي او په کوم فلسفيانه، عارفانه او شاعرانه انداز کښې ئې وئيلي دي، دا ټول د دوي د يو ځانګړي شان او مقام په ټاکلو کښې لوی لاس لري-"(۲)

د عبدلقادرخان خټک د تصوف په لړ کښې به د ډاکټر راج ولي شاه خټک رای هم اوګورو!

“AdbulQadir Khan Khattak considers physical reality to be a reflection of the absoluter reality. He says those who see a difference between the two are mistaken. But those who have the piercing right of true insight can see beneath the surface of things. They can perceive absolute reality in its various physical forms. He says about absolute reality.“Beauty can be seen in all forms by those whose hearts have been illuminated by love.”

In a sense Abdul Qadir Khan Khattak is saying,

“Beuaty lies in the eyes of the beholders.”(۳)

د تصوف په حقله د عبدالقادرخان خټک خيالات ډېر دقيق نهٔ دي - ژبه ئې صفا و صوفيانه خيالات ئې په ډېرې بې تکلفۍ ، راونۍ او سادګۍ سره بيان کړي دي او د تخيل قوت ئې هم د ستائينې وړ دی- د تصوف په حقله هر هغه مضمون چې د دۀ نه وړاندې د شعر په انداز کښې بيان شوی دی ، عبدالقادخان خټک په يو داسې طرز بيان کړی دی چې خالص نوی معلومېږي- لکه د مثال په توګه دا يو څو شعرونه به ئې اوګورو:

دلبر مخ راته ښائي په هر آئين کښې
که په تور کښې جلوه ګر شي که په سپين کښې

ګاه په زلفو کښې ځای اوکه زړهٔ راکاږي
ګاه په سترګو په رخسار او په جبين کښې

کله کله په ترسا کښې مخ څرګند کا
د صغان په دود ئې وران کاندي په دين کښې

په چراغ کښې تجکلي اوکه پتنګ ته
بلبلانو ته ښکاره شي په نسرين کښې

په هر څۀ کښې ګوره یار عبدالقادره که دې نشته شک ګومان په خپل یقین کښې(۴)

**د رسول –مینه**:

د صلي الله علیه وسلم مینه زمونږ د ایمان برخه ده. حدیث پاک دی :چې "ترهغې د یو مسلمان ایمان مکمل نۀشي کېدلی تر څو چې ورته زۀ د ځان، مورپلار او اولاد نه خوږ نه شم"، عبدالقادرخان خټک د خدای د مینې سره سره د رسول –په مینه هم مست دی. د هغۀ د ډېرو شعرونو نه د رسول –وسلم سره د مینې اندازه کېږي او د هغۀ د سوچه مسلمانئ پته ترې لګي. لکه چې وائي:

خدای په خپله ستا صفت دی بیان کړی
نه شته شی چې مدحه ستا د اوصاف نۀ کا
چې ئې ستا په شریعت قدم ثابت کړۀ
له صراطه دې هغۀ سرې خوف نۀ کا"(۵)

د عبدلقادرخان خټک عقیده ده چې که څوک په سنت رسول پوره پوره عمل کوي نو د هغوي جنت ته په تلو کښې بیا څۀ شک نشته. بل ځای د رسول په مینه کښې داسې ګویا دی.

چې اولیدۀ بشر ستا کمترین غلام شو نمر ستا
ګل له شرمه خولې پرېږدي چې په مخ شي برابر ستا
میاشت او وریځ د مخ نقاب کړۀ چې په مخ شوه برابر ستا
تل دا خواست عبدالقادر کړۀ چې که خاورې شي د در ستا"(۶)

**اخلاقي شاعري**:

د اخلاقي شاعرئ رواج په پښتو کښې د عبدالقادر نه مخکښې ؤ او عبدالقادرخان خټک هم په هغه شاعرانوکښې دی چې اخلاقي مسئلې ئې په شاعرئ کښې په ساده او اسان انداز کښې بیان کړي دي. د هغۀ نه مخکښې خوشحال خان بابا او رحمان بابا هم په شاعرئ کښې اخلاقي خبرې کړي دي. د یو ائیډیل مومن دپاره چې کوم ضروري صفات دي، د هغې صفاتو ذکر دواړو لویو شاعرانو کړی دی او عبدالقادرخان هم د دوي په قدم قدم اېښی دی. عبدالقادرخان خټک چې کوم اخلاقي صفات بیان کړي دي، هغه د یو مومن د کردار ټوله رغونه سازوي.

۱ **قناعت**:

قناعت چې د انسان د عزت نفس او د خود دارئ اهم جزو دی. داسې ئې بیان کړی دی . قناعت یو داسې صفت دی چې انسان د ډېرو خصلتونو، او ناروا کارونو او حرامو نه ساتي .

که په شپږ اقلیمه وي چې اووم غواړي
ه هغه ته بادشاه مه وایه ګدا دی"(۷)

چې قانع په خشک و تر شي
هغه شاه د بحر و بر شي"(۸)

موړ به هرګز نه شي د حرص د کلي وړی
هيڅ کله به وږی نه شي موړ د قناعت"(۹)

۲ **حسد**:

حسد چې نېکي لکه د لرګو په شان سيزي، په دې حقله عبدالقادرخان خټک وائي:

"خوش په خپله بخره شه حسد له هيچا مه کړه
هر چا ته رسېږي خپله بخره خپل قسمت"(۱۰)

۳ **محنت**:

محنت د عظمت دويم نوم دی اؤ محنتي د الله دوست وي۔ بناغلی خټک محنت کش ته داسې ډاډ ورکوي۔

لکه وار د ښادئي ځي د غم هم درومي
په محنت کښې زړۀ هر ګز مهٔ شه درهمه(۱۱)

دغه شان محنتي خلقو څۀ داسې هم ګويا دی :

د راحت امېد کوئ اهل محنتو
خدای به نه کاندي ضائع مشقت ستاسي(۱۲)

3**جهد مسلسل**:

په حرکت کښې برکت وي۔ ژوند د مسلسل کوشش نامه ده۔ اوبۀ چې يو ځای اودرېږي هم سخا شي۔ په دې حقله خټک صېب د جهد مسلسل تلقين درسي کوي:

ژرنده هل څه حاصل کاندي چې ګرځي
يو زمان قراری مۀ کړه له طلبه(۱۳)

۵ **شکر**:

الله تعالي ناشکري نۀ خوښوي۔ څوک چې شکر ادا کوي، الله تعالي هغه له نور نور نعمتونه ورکوي۔ عبدالقادر خان خټک د شکر په حقله وائي :

که ئې نوش عبدالقادر د شکر مې کړه
پري به نۀ شي د مرګ تلخي شهد و شکر(۱۴)

۶ **طمع**:

وئيلی شي چې د طمعې ځای خالي وي۔ طمع صرف د الله د ذات نه پکار ده۔ د طمعې انجام داسې په ګوته کوي۔

چې دې طمع له چا شوه عبدالقادره
تهٔ بنده شوې هغه ستا خداوندان دي(۱۵)

دغه شان د طامع په حقله وائي چې طامع سړی کله هم نهٔ مړېږي۔

که ګنجونه د قارون ورته موجود شي
ګمان مهٔ کړه چې زړهٔ سیر لري طامع(۱۶)

۷ **علم**:

انسان له الله د علم په وجه فضیلت ورکړی دی ۔ د علم په وجه انسان د فرښتو نه هم افضل دی ۔ د علم فضیلت داسې ښائي:

د سړي ځربښت په علم په حکمت شي
د چارپایو ځرېدل وي په علف(۱۷)

۸ **عمل**:

خپل عمل د لارې مل دی ۔ په دې حقله کښې ښاغلی خټک صېب وائي:

تنها هیڅوک ګورستان لره لاړ نهٔ دي
خپل عمل غاړه غړی ورسره زغلي(۱۸)

۹ **دولت**:

دولت د عبدالقادر خان خټک په نظر کښې هېڅ شی نه دی۔ بلکې د دولت جمع کول د عذاب باعث دی۔ په دې حقله وائي:

چې ئې اوس په ټولولو نهٔ مړېږی
هم دا خپل دولت به وکا په تا شند(۱۹)

۱۰ **دل ازاري**:

د چا زړهٔ ازارول ښهٔ کار نهٔ دی ۔ د دل آزاری په حقله وائي:

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره
خو یو مهٔ کړه آرزده د مسلمان زړهٔ(۲۰)

11**د انسان شر**:

انسان هغه دی چې د هغه د شر نه نور خلق په امان وي۔ عبدالقادر خټک د په دی حقله وائي :

په معنٰی کښې بشر نهٔ دی پړانګ لېوهٔ دی
چې ددهٔ د لاسه مومي بشر شر(۲۱)

**۱۲ انسان د خپل صحبت نه پېژندہ شي**:

د انګرېزۍ ژبې مقوله ده چې (A man Is known by the company he keeps) دا حقیقت دی چې عبدالقادر خټک په ډېر ښکلي مثال سره بیان کړی دی۔

ښهٔ په ښهٔ باندې مئین وي بد په بدو
طلبګار د بازوباز دا زاغو زاغ وي(۲۲)

حدیث دی چې څه څان له خوښوې هغه بل مسلمان له هم خوښوي۔ د عبدالقادر صېب دا شعر د دې حدیث ترجمان دی۔

په دا دوه حرفه ادا مسلماني ده
هر چې نه پسندی په څان په چا مه پسند(۲۳)

**13 د نفس پېروي** :

د نفس پیروي انسان هلاکت طرف ته بیائي۔ عبدالقادر خټک د نفس د غلامۍ په حقله وائي !

په خندا په هوس تلهٔ ئې شي دوزخ ته
په ژړا په غم په لوري د بهشت(۲۴)

ګناه د هر انسان نه کېږي خو په خپل ګناه شرمنده کېدل او پښېمانه کېدل د ایمان نخښه ده۔ عبدالقادرخټک چې د احساس ندامت په اوښکو خپل ګناهونه اووینځۍ۔

بل کړه د اخلاص په غوړ چراغ د عبادت
موم د عصیان وئیلي کړه په اور د ندامت(۲۵)

لنډه دا چې د عبدالقادرخټک شاعري د اخلاقي تعلیماتو یو رنګارنګ ګلدسته ده چې په کښې هر هغه توکی موندی شي چې د انسان د کردار رغونه ترې سازېږي۔ هغه انسان ته د علم حاصلولو درس ورکوي د عمل کولو تلقین کوي د حسد ، اسراف، دل آزارۍ او طمعې غوندې خاصیتونو نه څان د بچ ساتلو نصیحت کوي او د الله ذکر، د الله تعالٰی د ذات سره محبت، د هغهٔ در فنا حاصلولو د رسول پاک صلي الله علیه وسلم د اطاعت او د انسانیت د خدمت درس ورکوي لهٰذا دا چې دهغهٔ د دیوان پاڼه پاڼه او یو یو شعر د پند و نصیحت نه ډکه ده ـ عبدالقادر د انسان هغه ټول خصوصیات په ګوته کړي دي کوم چې یو رښتوني انسان کښې په کار دي۔ داسې انسان چې د فرښتو نه افضل دی ـ د مثال په توګه به د لاندې شعرونه اوګورو چې څومره په ښکلي ډول په کښې عبدالقادرخټک د یو باکرداره انسان ټولې خوبۍ راغونډې کړي دي۔

دا خويونه که دانا سړی اختيار کا | په دنيا په دين به جوړ پرې کاروبار کا
عبادت د حق په صدق په اخلاص کا | تل له خپله نفسه جنګ کوي کار زار کا
په فقر او سخاوت کا بې متنه | په حاجت کښې استغناء له دنيا دار کا
وه دوستانو ته تل پند نصيحت وائي | له دښمن سره په حلم ژبست روزګار کا
له تمامو خلقو ژبست په انصاف کاندي | په رښتيا وئيل حاصل خپل اعتبار کا
شفقت مهرباني کا په خوارانو | د بزرګانو په خدمت حامل وقار کا
جاهلانو سره ژبست په خاموشۍ کا | که په بد وئيل ئې زاړهٔ ازار کا"(۲۶)

دغه شان د يو عالم انساني خصوصيات داسې په ګوته کوي:

هر عالم چې تن پرست شي کامراني کا | دې به څرنګه د دين نګهباني کا
چې له خدايه ويره کا عالم هغه دی | که د بخت د پاسه ناست وي سلطاني کا
موافق چې ئې عمل له علمه نهٔ وي | تر جاهل به عالم زياته پښېماني کا
د عالم فساد فساد د دوست عالم دی | شيطان کله هومره ډېره ويراني کا
د هغه عالم صحبت لکه دارو دي | چې پيدا ورکښې خويونه انساني کا"(۲۷)

**۴ انسان او دنيا له فنا شته**:

انسان او دنيا دواړه فاني دي او دا تريخ حقيقت د عبدالقادر په شاعرۍ کښې دومره په زور سره بيان شوی دی چې د يو جدا سر خط لاندې پرې بحث کول غواړم۔ عبدالقادرختک وائي چې يو انسان هم د مرګ نه نه شي خلاصېدی۔ دمرګ په حقله وائي:

په ارمان په حسرت لاړل له جهانه
که پرويز وهٔ که دارا که منوچهر(۲۸)

عمرلکه د باد په شان تېرېږي او تېر ساعت په بيا بېرته نه راځي۔ دا حقيقت عبدالقادر خان ختک داسې بيانوي۔

لک او کروړ که پسې خرڅ عبدالقادر کا
هم تېر عمر به رانهٔ شي په بيا راته(۲۹)

عبدالقادرختک د دنيا په ژوند نازېدونکي انسان ته وائي:

فلک تا غونې ډېر سم کړهٔ ته پسې ئې
له غروره به تل څو درومې په لار کج(۳۰)

ډېر ناز غرور خلق چې ځان ته څه وائي خو د مرګ په مخکښې هيڅ مجال نه لري۔ لکه يو شاعر وائي!

جو قیامت اٹھائے پھرتے تھے
سو رہے ہیں وہ لمبیاں تانے

عبدالقادر خټک وائي چې وار په وار به ټولو له مرګ راځي. د هغه دا وینا د قران مجید د دې آیت تفسیر دی چې کل نفس ذائقته الموت.

چې داخل دې د دنیا په خرابات کښې
په وار وار به واړه ځښې د مرګ اياغ"(۳۱)

عبدالقادر وائي چې دا قبرونه د عبرت منظر دی خو که څوک پرې پوهېږي.

نصیحت وائي همېش عبدالقادره
مردګان که څوک مني له ادېرو"(۳۲)

**عشق مجازي:**

عشق مجازي د عشق حقيقي دپاره یوه پوړۍ ده او عبدالقادر خټک هم په دې پوړۍ ختلی دی. هغه هم د عشق په لمبو سوزېدلی دی . هغه هم د وصال او د هجران د کېفیت نه تېر شوی دی. هغه هم د محبوب خدوخال ستائیلي دي. د محبوب بې وفائي ئې ژړلې ده او د رقیب د ناکړدو نه تنګ دی او د واعظانو نصیحت پرې اثر نۀ کوي. د عبدالقادرخټک د عشق فلسفه څۀ په داسې قسم ده.

که خبر مې شې له خوګ خاطره تۀ — شپه او ورځ به په نارو شې لکه زۀ
څو تاوونه باندې تېر شي چې پخېږي — د پخو په حال خبر نۀ دي اومه
که ددې سوې چرې زړۀ د عشق په اور وي — ستا به هله زړۀ په سوؤ باندې سوو "(۳۳)

عبدالقادر خټک ته خپل محبوب څۀ بې کچه ښائسته ښکاري. د خپل محبوب حسن څۀ په دې جوړ له ستائي:

هېڅ تشبيهـ تمثيل ئې نشته په جهان کښې — نۀ پوهېږم چې یار څرنګه اوستایم
ستا په حسن څوګند خورم په خپله مينه — تر ځان زۀ عبدالقادر مئين په تا یم"(۳۴)

د عبدالقادرخټک محبوب دومره بې شانه ښکلی دی چې هغه ئې حسن ته حېران دریان پاتې دی .

چې وه مخ وه ته ئې ګورم ننداره مې
هرګز نۀ پرېږدي د سترګو وه ځمبل ته"(۳۵)

خو ولې د حسن سره سره د هغه محبوب ډېر غرور هم کوي .

مخ به چېرې راته سم کړې په یارۍ کښې
که همېش به ئې لرې راته نګارکج"(۳۶)

عبدالقادرخټک لکه د روايتي عاشق همېشه د ديدن په طمع وي او په دېدن پسې بې حده کړېږي.

همېشه د جدائي په درياب ډوب يم
د ديدن په طمع سر کړم کله پورته"(۳۷)

لکه د دنيا د نورو محبوبو په شان بې وفائي د عبدالقادرخټک د محبوب شېوه هم ده خو هغه هم رښتونی عاشق دی. د محبوب بې وفائي ته ئې غاړه اېښودې ده او په سر سترګو ئې وړي.

څو دې زړهٔ عبدالقادد جفا کړه
ستا جفا به وړې په سر په بصر هم لا"(۳۸)

هر شاعر جمالياتي ذوق لري. د فطرت زړهٔ راښکونکې ښکار او د محبوب خدوخال باندې هر شاعر شېدا وي او دغه حال د عبدالقادر خټک هم دی. د محبوب خدوخال هم ستائلي دي. هغهٔ د خپل محبوب د شونډو خوږوالی او شيريني ئې څهٔ په دې جوړ له ستائلې ده.

له خوږو مې دواړه شونډو صبا ښتې
چې مې وزبېښل په خوب کښې د يار لب"(۳۹)

چې څنګه د محبوب شونډې خوږې دي، دغه شان ئې خبرې هم خوږې دي.

چې تارخهٔ وئيل دې هومره ډېر خواږه دي
د خوږو به دې څهٔ خوند وي شکر لب "(۴۰)

هر عاشق د محبوب وصال غواړي. عبدالقادر هم په هغه عاشقانو کښې دی چې د وصال ارمان کوي او په هجران کښې خفه دلګير وي.

چې مې يار له غېږې ځي د مرګ ساعت دی
دريغه مهٔ وی د وصال د شپې صبا"(۴۱)

دغه شان د ديوان په يوشپېتم مخ وائي:

چې مې زړه د يار په وصل کښې خوشحال وهٔ
يو په سله تر هغه هجران زهير کړم"(۴۲)

غم په تورو شپو د انسان ملګری وي. که غم نه وی د خوشحالۍ احساس به هم چاته نهٔ کېدو. په دې دنيا کښې داسې څوک هم شته چې څهٔ غم به نهٔ لري خو د هر چا خپل خپل غم وي او عبدالقادر خټک په دې خوشحال دی چې د مينې په غم کښې بنديوان دی.

چې بې غمه نشته څوک عبدالقادره
ښهٔ چې زهٔ په غم د مينې ګرفتارشوم"(۴۳)

کله چې يو عاشق په محبوب پسې کړېږي، په ديدن پسې ئې بې قراره وي او حالت ئې خراب وي نو واعظان ورته نصيحتونه کوي خو د عاشق په نصېحت څۀ داسې کېفيت د عبدالقادر هم دی.

نصيحت په عاشقانو اثر نۀ کا
نۀ د پير نۀ د استاد نه د بابا"(۴۴)

عبدالقادر د واعظ په نصېحت ځان کوڼ کړی دی او ورته وائي چې ښۀ به دا وي چې راته ئې نه کوې.

که هر څو نصيحت ښۀ وائي واعظ
بهتر دی چې ماته نه وائي واعظ"(۴۵)

هر عاشق د خپل محبوب سره رقيب نه شي برداشت کولی خو ولې د عبدالقادر دا حال دی چې د محبوب رقيب ته کنځل هم نه شي برداشت کولی.

چې رقيب وته ښکنځل کوي زۀ سوزم
جګي جګي بې لمانه بل مۀ زوور"(۴۶)

هم دغه رنګ ښاغلی خټک چغل خور ته وائي چې لګيا اوسه. څومره دې زړۀ وي، هغه هومره ماته د يار خلاف خبرې کوه. زما زړۀ ستا په خبرو د يار نه نۀ بدېږي او بيا څۀ داسې ګويانه شي.

په چغلۍ مې ستا په يار مينه زياتېږي
څو دې زړه هومره چغلي کوه چغل "(۴۷)

**پښتونولي**:

پښتونولي هم د عبدالقادرخټک د شاعرۍ يو جوت اړخ دی. لکه د خپل پلار په شان عبدالقادرخټک هم د پښتنو په حالت زار باندې ژړا کوي. د پښتنو د بې اتفاقۍ ژړا خوشحال خان خټک هم کړې ده. شاعر د قام سترګې وي. هغه د خپل قام په ښو او په بدو نظر ساتي. شاعر په سينه کښې يو حساس زړۀ لري. په دې وجه د هغۀ مشاهده تېزه او ژوره وي هغه چې څۀ ويني هغه نور څوک نۀ ويني. شاعر د خپل قام په بدو خصلتونو هم نظر ساتي او هغه ترې اوباسل غواړي. دغه شان جذبات د عبدالقادرخټک هم دي. په دې وجه مونږهغۀ ته قام پرست شاعر وئيلی شو. چې د خپل قوم په خوږ خوږمن دی. ښاغلی خټک د پښتنو دا بد خويونه ژاړي.

پښتانۀ کوتاه انديش دي سود غليم ته زيان د خويش دي
نو شدارو پکښې ناياب دي واړه زهر واړه نېش دي
حريصان طامع سترګ وږي په بد خوئي نمک دريش دي
ملکان ئې ادم کش دي کفر کشي کا چې درويش دي
پير مريد ئې جهالت دی نۀ په دين نۀ په کېش دي"(۴۸)

**په شېخ ملا طنز**:

شاعر یو حساس او ایماندار انسان وي۔ په هغه وخت کښې تګې تورې نه وي هغه د چا مخ دوه څېرې نه شي لېدې او د نن زمانې د ملانو په مخ دوه څېرې وي لکه د نورو شاعرانو په بې علمه ملانو عبدالقادر خټک هم ټکونه کړي دي ۔

واژګونه چارې په دهر کښې لیدی شي محتسب کره شیشه د شراب وینم
په ښې لاس پیاله د میو می نوشي کا په کېڼ لاس کښې ئې د فقهې کتاب وینم
که قاضي دی که مفتي دی که خطیب دی د همه وکره چنګ د رباب وینم
اوس ئې فضل په علم په تقوی ؤ که پخوا فضل په دنیا په اسباب وینم"(۴۹)

**زمانې په بدلو اقدارو طنز**:

زمانه په منډه روانه ده۔ هر خوا د سائنس د ترقی شور دی خو دې ترقی سره سره د ژوند ټول اقدار بدلېږي خو دا بدلېدونکي اقدار ټول په ټوله مثبت نهٔ دي۔ ښاغلی خټک هم د دغې بدلېدونکو اقدارو ژړا کوي۔

نه پوهېږم چې په وېښ یم که خواب وینم
چې دا هسې رنګ کارونه عجاب وینم
پلار زوي ته خبرې په نرمی کا
زوی و پلار و ته په قهر و عتاب وینم
په امید د مال و ملک چې ورمیراث شي
د مورپلار له مرګه زوی ئې کامیاب وینم(۵۰)

عبدالقادر دا ژړا کوي چې د رشتو هېڅ قدر پاتی نه شو او عجیبه عجیبه خبرې او په لېدو او اورېدو کښې راځي۔

دا خو شوې د عبدالقادر د فکر په حواله خبرې چې د هغهٔ په شاعری کښې سنټرل تهیمز (Central Themes) څهٔ څهٔ دي او هغه مونږ د مخکښې ورکړې شوې سرخطونو لاندې اوڅېړلې۔ اوس به د هغه د فن په حوال خبرې وکړو۔ د هغهٔ د شاعری د لوستو نه پس د هغه د فن په حواله لاندېنی خبرې مخې ته راځي ۔

**تشبیه او استعاره**:تشبیه او استعاره د شعرونو خوند رنګ زیاتوي او هر شاعر د دې استعمال د خپلو جذباتو د اظهار دپاره کوي۔ ښاغلي خټک هم د محبوب د خدوخال سره رنګ رنګ څېزونو ته تشبیه ورکړې ده چې کلام ئې پرې خوندور ښکاري۔ یو څو مثالونه ئې دا دي۔

په سپین مخ باندې ئې خط دی چې ښکارېږي
که ئې شونډې ته مېږو جوړ بهیر کړو"(۵۱)

راشه اوګوره زما زیبا صنم ته
که به ګورې په یو ځای شمس وقمر
په شړلو مګس نۀ درمي له قندو
ستا له شونډو به لاړ نه شي په شرل زړه"(۵۲)

**موسیقیت**: (**صنعت ردالعجز علي الصدر**)

تکرار څۀ ته چې په انګریزۍ کښې ریپیټیشن (Repetition) وئیلی شي، په عامو خبرو اترو کښې ښۀ نۀ شي ګڼلی. ولې د شاعرۍ په ژبه کښې تکرار ښائست او خوند پیدا کوي. لکه صنعت ردالعجز علي الصدر یو صنعت دی چې په هغې کښې تکرار وي. د عبدالقادرخټک په دېوان کښې د دې غزل داسې دي چې د دې صنعت ښکاره مثالونه دي. د یو دوو غزلو دوه دوه شعرونه ورکوم.

یا مجنون شوم خوئي مې نور شۀ یا ستا عشق راباندې زور شۀ
یا ستا عشق راباندې زور شۀ یا مجنون شوم خوئي مې نور شۀ

غم هاله زما په کور شۀ چې په تا باندې مئین شوم
چې په تا باندې مئین شوم غم هاله زما په کور شۀ"(۵۳)

د بل غزل شعرونه به هم اوګورو!

نن په خوا راغله ماه رویه سمنبره سنبل بویه
سمنبره سنبل بویه نن په خوا راغله ماه رویه
وې ئې مې مه ځه له کویه چې ذلیل بې قدره نه شې
چې ذلیل بې قدره نه شې دی ئې مۀ مې ځه له کویه"(۵۴)

یوه مصرعه ده بیا هغه وړاندې وروستو شوې ده یعنې تکرار شوې ده او شعر ترې جوړ کړې شوی دی. ولې په لوستونکو یا اورېدونکو بده نه لګي. داسې تکرار د کلام خوند زیاتوي. هم د دې صنعت استعمال رحمان بابا هم کړی دی. لکه!

سر زما سامان زما ځار شه تر جانان زما
ځارشه ترجانان زما سرزما سامان زما

**د فارسۍ او عربۍ استعمال** (**ذوللغتین**): په شاعرۍ کښې د دوؤ ژبو استعمال ته ذواللغتین وائي. عبدالقادر خټک په فارسۍ او عربۍ ژبو عبور لري او د دې دواړو ژبو استعمال ئې کړی دی. خالص

په یوه ژبه کښې لیکل اٰسان کار دی چې قافیه او ردیف پکښې د دوؤ ژبو نه برابر کړی شوې وي ۔ او دغه شان په شعرونو کښې د بلې ژبې نه ټکي راوړل هم دومره ګران نه دي ۔ خو ولې د دوؤ ژبو داسې استعمال دومره آسان کار نۀ دی او نه ئی هرڅوک کولی شي خو عبدالقادر ډېر په فنکاري سره د دې استعمال کړی دی ۔ په دیوان کښې دوه غزلې داسې دي چې یوه مصرعه ئې د پښتو او بله د عربۍ ده او دا دوه غزلې څۀ ډېرې زیاتې خوندورې هم دي چې دې دیوان ته ئې ښکلا ورکړې ده ۔ د مثال په توګه به ئې دوه دوه شعرونه وړاندې کړو ۔

بیا ئې مخ ونیو دلربا ئې نقاب افتح افتح یا مفتوح الابواب
ګل شګفته شو په هر لور د بهار الصبوح الصبوح یا احباب

د بل غزل شعرونه څۀ په دې جوړ دی ۔

مخ په هر لوري جلوه کوي د یار ابصرو ابصرو اولوالبصار
بې محابا راکره کښېږده قدم لیس في الدار غیرنا دیار

دغه شان په دیوان کښې یو پوره غزل د فارسۍ ژبې دی چې ژبه ئې ډېره آسانه اوروانه ده اؤ موسیقیت لري که یو بنده پرې نۀپوهېږي خو هم صرف په اورېدو ترې هم خوند اخستی شي ۔ د مثال په طور به ئې دا دوه شعرونه وړاندې کړم ۔

چو زلف عمبرین دا پیچ وخم کردی کرم کردی
دلم دا ا رسرنو بند غم کردی کرم کردی
چو بکشودی نقاب ازرخ نمودی عارضِ زیبا
شب اندور ملا صبح دم کردی کرم کردی(۵۵)

**تلمیح** :

په کلام کښې زړې تاریخي واقعې ته اشاري کولو ته تلمیح وئیلی شي ۔ تلمیح د شاعر په علمیت دلالت کوي او د کلام خوند ورسره سېوا کېږي ۔ د عبدالقادر خان خټک دیوان هم ښکلي ښکلي تلمیحات لري ۔ لکه د مثال په توګه دا تلمیح به ئې اوګورو:

صباحت ئې د یوسف ع همېش منظور ؤ
څکه سپین شو د یعقوب ع د سترګو توري(۵۶)

**ژبه اؤ لهجه**(Dictation):

د عبدالقادر خټک ژبه کښې سادګي او رواني ده ۔ هېڅ څۀ پیچیده خبرې پکښې نشته ۔ د هغۀ ژبه لکه د رحمان بابا ساده ده ۔ هر سړی پرې ښۀ په آسانه پوهېدی شي ۔ د هغۀ د لهجې او د ژبې خوږلت ډېرو پوهانو ستائیلی دی ۔ لکه ښاغلی همېش خلیل صېب وائي چې:

"ددۀ په شاعرۍ کښې هغه ټول کیفیات، جذبات اؤ احساسات راغونډ شوي دي. کوم چې د تغزل حسن ګڼلی شي او هم دا هغۀ سامان دی. چې عبدالقادر خان ئې د یو اهم شاعر په اعزاز نمانځلی دی. اګر کۀ د هغۀ ساده، روان او رنګین کلام کښې د فلسفي د قیقتیا نشته او د ماورائیات پیدا کولو نه ئې ځان ژغورلی‌دی او دا هر څه ئې د غزل لب و لهجې سره ځار کړي دي. د عبدالقادر خان حسنِ بیان، د ژبې خوبي، د خیال نذرت او تشبیه، د الفاظو شیریني، فارسي ترکیبونو خوږلت او له متوازن الفاظو پیدا شوې هم اهنګي. د غوټو لوخوبیو چې شاعر ته د امتیاز کوم مقام ورکړی دی. یو څو مثالونه ئې دادي.

ددې ټولو خبرو نه مونږ په دې نتیجه رسو چې:

عبدالقادر خان خټک د یو ځانګړي انداز او آساني او شیریني لب و لهجې خاوند دی. د پښتو د دوؤ نومورړي شاعرانو خوشحال بابا او رحمان بابا نه علاوه عبدالقادر خان خټک د چا نه متاثره نۀ ښکاري. د افغانستان نوموړی لیکوال زلمی هېواد مل په دې حقله وائي:

> " د عبدالقادر د شعر ژبه ، پسته ، نرمه ، خوږه او له لطافته ډکه ده. دۀ چې د خپل شعر د ښکلي کولو له پاره کوم الفاظ انتخاب کړي دي. د الفاظو د انتخاب په شېوه کښې له خوشحال بابا سره څۀ فرقونه لري. دا خبره طبعي هم ده ځکه د یوه ښوونکي ، مبلغ، خلیفه او صوفي طبیعت باید نرم او لطیف وي اما په مقابل کښې یوه مشر جنګیالي سردار طبیعت باید داسې خاص صلابت ولري چې له اجتماعي موقف سره ئې اړخ اولګوي. دې په خپلو غزلو کښې له خپل سر بېره یو ځای د رحمان بابا نوم هم اخلي. له دې دوؤ تنو سر بېره ماته خپله د دۀ په کلام کښې د کوم بل پښتانۀ شاعر نه د متاثرېدو څرک نه ښکاري-"(۵۷)

د عبدالقادرخټک د شاعرۍ په باب له د پښتو په ادبي څېړنو کښې ډېر څه وئیل شوي دي. که مشران دي که ځوانان دي هر چا دې د پښتو د اوچتې پائې د شاعرانو په ډله کښې اودرولی دی.

زۀ به خپله خبره د زلمي هیواد مل په دې خبره راټوله کړم چې د عبدالقادر خټک د دیوان د لوستو نه پس معلومېږي چې عبدالقادرخټک په رښتیا شاعر دی. وینائې د زړۀ ویني دي. د ۀ په دېوان کښې به داسې بیتونه او غزلیات ډېر لږ پیدا شي چې لفظي او معنوي محاسن نه لري.

لنډه دا چې عبدالقادر د پښتو ژبې یو داسې شاعر دی چې مونږ ئې د نورو ژبو د شاعرانو په مخکښې ښۀ په فخر سره نوم اخیستی شو.

## حوالې


(۱) زخمي، بهرام، عبدالقادرختک، پښتو، پښتواکېډيمي پېښور پوهنتون پېښور،۱۹۸۳، مخ ۱۲

(۲) خويشگي، پرويزمهجور، ډاکټر، د عبدالقادرخان ختک ژوند، فن او شخصيت، پښتو، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون پېښور، ۲۰۰۲، مخ ۱۲۵-۲۶

(۳) ختک، راج ولي شاه، ډاکټر، Abdul Qadir Khan Khattak, A Pashtun Contemporary of Shah Abdul LatifBhitai، پښتو، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون پېښور، ۲۰۰۲، مخ ۱۰،۱۱

(۴) د عبدالقادرخان ختک ديوان، (تحقيق و ترتيب: پروفېسر جهانزيب نياز، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون، مارچ ۲۰۰۲ ، ص ۲۲۷

(۵) هم دغه ص ۲۷

(۶) هم دغه ص ۳۵

(۷) هم دغه ص ۲۰۵

(۸) هم دغه ص ۲۲۲

(۹) هم دغه ص ۴۸

(۱۰) هم دغه ص ۴۸

(۱۱) هم دغه ص ۹۶

(۱۲) هم دغه ص ۱۷۸

(۱۳) هم دغه ص ۴۰

(۱۴) هم دغه ص ۵۵

(۱۵) هم دغه ص ۱۶۱

(۱۶) هم دغه ص ۷۶

(۱۷) هم دغه ص ۷۶

(۱۸) هم دغه ص ۱۶۸

(۱۹) هم دغه ص ۵۳

(۲۰) هم دغه ص ۱۲۴

(۲۱) هم دغه ص ٥٤

(۲۲) هم دغه ص ۲۰۹

(۲۳) هم دغه ص ۵۳

(۲۴) هم دغه ص ۴۵

(۲۵) هم دغه ص ۴۸

(۲۶) هم دغه ص ۲۶

(۲۷) هم دغه ص ۳۱

(۲۸) هم دغه ص ٦٠

(۲۹) هم دغه ص ٤٢

(۳۰) هم دغه ص ٤٩

(۳۱) هم دغه ص ۷۲

(۳۲) هم دغه ص ۱۱۵

(۳۳) هم دغه ص ۱۳۱

(۳۴) هم دغه ص ۸۹

(۳۵) هم دغه ص ۴۷

(۳۶) هم دغه ص ۴۹

(۳۷) هم دغه ص، ۴۶

(۳۸) هم دغه ص ۳۶

(۳۹) هم دغه ص ۳۹

(۴۰) هم دغه ص ۴۰

(۴۱) هم دغه ص، ۳۷

(۲۴) هم دغه ص، ۶۱

(۴۳) هم دغه ص ۱۰۴

(۴۴) هم دغه ص ۳۶

(۴۵) هم دغه ص ۶۸

(۴۶) هم دغه ص ۵۶

(۴۷) هم دغه ص ۷۹

(۴۸) هم دغه ص ۱۸۹

(۴۹) هم دغه ص ۱۰۶

(۵۰) هم دغه ص ۱۰۶

(۵۱) هم دغه ص ۵۵

(۵۲) هم دغه ص ۱۲۵

(۵۳) هم دغه ص ۱۳۸

(۵۴) هم دغه ص ۱۵۹

(۵۵) هم د غه ص ۱۹۰

(۵۶) هم دغه ص ۱۷۲

(۵۷) هېوادمل، زلمی، فرهنگيالی عبدالقادر، ليکوال، شاعر، مترجم او صوفي، پښتو، پښتو اکېډيمي پېښور پوهنتون پېښور، ۲۰۰۲، مخ ، ۹۵